# په اسلام کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر مقام او د ټولنې په اصلاح کې يې ونډه

د علمي څېړنيز سيمينار
د مقالو ټولگه

په اسلام کې د امربالمعروف او نهی عن المنکر مقام او د ټولنې په اصلاح کې يې ونډه

# Status of Propagation of Virtue and the Prevention of Vice in Islam and Its Role in Improvement of Society

2023

ISBN 978-9936-661-90-5

د افغانستان د علومو اکاډمي
Afghanistan Science Academy
اکادمی علوم افغانستان

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د اسلامي علومو معاونيت
د عقيدې او ثقافت مرکز

# په اسلام کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر مقام او د ټولنې په اصلاح کې يې ونډه

د علمي څېړنيز سيمينار د مقالو ټولګه

**د کتاب ځانګړنې:**

**د کتاب نوم:** په اسلام کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر مقام او د ټولنې په اصلاح کې يې ونډه

**ایډیټ او اهتمام:** څېړندوی اسد الله میاخیل

**د چاپ کال:** ۱٤۰۲ل / ۱۴۴۵ هـ ق

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

**د چاپ ځای:** بهير مطبعه

ISBN : ٥- ٩٠- ٦٦١- ٩٩٣٦- ٩٧٨

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

# لیکلړ

**سرلیک** **مخگڼه**


د عقیدې او ثقافت مرکز یادښت ........................................................ ۱

د افغانستان اسلامي امارت د رئیس الوزراء پیغام ........................................ ٤

د افغانستان اسلامي امارت دسترې محکمې پیغام ........................................ ۷

د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اوریدلو وزارت د مقام پیغام .......... ۱۰

ددعوت او ارشاد عمومي ریاست پیغام ........................................................ ۱٤

د امر بالمعروف پېژندنه (قواعد، ارکان، شرطونه او ډولونه) ............................ ۱٦

د امر بالمعروف او نهی عن المنکر فرصتونه، ستونزې او حل لارې ................ ۵۱

اهمیت و فضیلت امر بالمعروف و نهی عن المنکر) ........................................ ۸۷

حکم شرعی امر به معروف و نهی از منکر .................................................. ۱۱۵

د دعوتگر اخلاق او ځانگړنې ...................................................................... ۱۳۳

نقش امر به معروف ونهی از منکر در استحکام نظام ...................................... ۱٤۹

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د تعطیل ځینې پلمې او د هغو رد ............ ۱۷۳

راه ها و وسایل امر به معروف و نهی از منکر ................................................ ۱۹۳

د دعوتگر صفات او اخلاق ........................................................................ ۲۱۷

مسئولیت هر فرد مسلمان در اجرای امر با لمعروف و نهی عن المنکر............ ۲٤۱

نقش امر بالمعروف و نهی عن المنکر در اصلاح فرد، خانواده و جامعه .......... ۲۵۷

د امربالمعروف او نهی عن المنکر وسایل او لارې چارې ................................ ۲۷۷

د قرآن کريم او نبوي سنتو په رڼا کې د دعوتگر اخلاق او اوصاف ................ ۳۰۱
د امر بالمعروف او نهې عن المنکر وسايل او اغېزمنې لارې چارې ................ ۳۲۵
د سيمينار پريکړه ليک........................................................... ۳٦۸

# د عقيدې او ثقافت مرکز يادښت

په اسلامي شريعت کې د امر بالمعروف او نهې عن المنکر مقدسه دنده خپل ځای او مقام لري، د انسان خلقت سره جوښت په انساني ټولنه کې د نيکيو او بديو تر منځ کشمش موجود او رراوان دی، ځينی انسانانو باندی خپل نفساني خواهشات غالب وي هميش په شعوري او يا غير شعوري ډول سره د انساني فطرت په خلاف اعمال ترسره کوي، هغوی حتی کوښښ کوي د گناهگارانو، مجرمينواو بدو اعمالو د مرتکبينو سرکښ اوسيږي، د هغوې ضميرونه په حقيقت کې مړه شوې هره بده کړنه او گناه ورته افتخار ښکاري او د کوم جرمي عمل د انجامولو په وخت کې د خجالت احساس هم نه کوي، مقابل طرف نيک فطرته او په خپل خالق باوري انسانانو هميش د همدغه ډلی مقابله کړي په مخ کې ورته د يو قوي ديوال په شان دريدلې دي.

د حق او باطل دا اوږده جگړه د قابيل او هابيل (ادم عليه سلام) د اولادونو څخه را شروع ده، يو ځای منکر موجود وي مقابل کې به د معروف او نيکيو ته را بلنه روانه وي.

د امر بالمعروف او نهی عن المنکر دا لويه او ستره فريضه که د علماوو، دعوت گرانو او د امربالمعروف او نهي عن المنکر مؤظفينو په واسطه درسته اداء شوې، آداب او شرايط يې مراعات شوې، د خبرو روش باندې يې دعوتگر پوه وې ځای او مناسب فرصت يې پيژندلی او حتی د خلکو ظروف يې درک کړي بيا ضرور همدغه نيکيو ته بلنه مثمره واقع شوې او که کومو دعوتگرانو او يا د امربالمعروف او نهی عن المنکر مؤظفينو شرايط، آداب، د خلکو ظروف او فرصتونه ندي پيژندلي بيا د ښې او مثمری نتيجې پرځای يې منفې اغيزه درلوده.

د امربالمعروف او نهی عن المنکرپیژنده اوځرنګه یوه مقدسه وظیفـه ده؟ دعوتګران او د امربالمعروف او نهی عن المنکرموظفین څوک دي؟ کوم صـفات او اخلاق باید ولري؟ کله او په کوم ځای کې امربـالمعروف او نهـی عـن المنکـر وظیفه انجامول مثمر واقع کیدلای شي؟ د ټولني او اجتماع په جوړښـت کـې د امربالمعروف او نهی عن المنکـر رول څـه ده؟ ولـې امـر بـالمعروف او نهـی عـن المنکرمثمر نه واقع کیږي؟ د امربالمعروف او نهی عن المنکر د مؤظف شـخص کړنې باید څرنګه وي؟

همدغه او د موضوع اړوند ټولو پوښتنو ته د مناسب ځواب مندلو په خـاطر د افغانسـتان د علومـو اکـاډمی د مشرـتابه پـه لارښـوونه، د اسـلامي علومـو د معاونیت د عقیدې او ثقافت مرکـز پـه نوښـت د ۲۵ /۱۴۰۱/۸ = ۱۴۴۴/۴/۲۲ نیټه د علومو اکاډمی د علامه احمد علی کهزاد د کنفرانسـونو او سـیمنارونو پـه تالار کې د (جایګـاه امربـالمعروف و نهـی عـن المنکـر در اسـلام و نقـش آن در اصلاح جامعه) تر سرلیک لاندې یو علمي، تحقیقي او څېړنیز سیمنار جوړ شـو، په دې سـیمنار کـې د افغانسـتان د علومـو اکـاډمی پـر پوهـانو سربیـره د نـورو دولتـی ادارو پوهـانو او د قلـم خاونـداون ګـډون کـړی و، پـر پیغـامونو او علمـی ویناوو سربیره د څیړونکو لخوا د موضوع اړوند څېړنیزې مقالی ارایه شوې، چـې د امربالمعروف او نهی عن المنکر موضوع یې پوره روښانه کـړه، د امربـالمعروف او نهی عن المنکر د مؤظفینو دندې، صفات او اخلاق یې د اسلامي شریعت په رڼا کې بیان کړل، د امربالمعروف او نهی عن المنکرمؤظفینو تـه مناسـبې لاري چارې وروښودل شوې تر څو همدغه مقدسه وظیفه هم په ښه او مثمـره طریقـه اداء کړل شي او هم د ټولنـي او زمونږ د جامعې ظروف او شرایط په هغـه مسـایلو

کې له نظره و نه غورځول شي چې هلته د مباحاتو موضوع وي

په پاې کې د اسلامي علومو د معاونيت د عقيدی او ثقافت مرکز د ثقافت ديپارتمنت له آمر ښيرندوی اسدالله مياخيل څخه مننه کوم چې د دی سيمنار د مقالو د ټولګې د اهتمام او چاپ مسؤوليت يې و مانه او مقالې يې را ټولې ، ترتيب او د چاپ لپاره آماده کړې چې و کولای شو ددې ښيرنيزسيمنار لاسته راوړني په چاپی بڼه له نورو درنو مينه والو سره شريکي کړو.

په درنښت

د يو آباد سمسور او پرمختللي افغانستان په هيله

ښيرنپوه عبدالوهاب عابد  د عقيدی او ثقافت مرکز ريس

# د افغانستان اسلامي امارت د رئیس الوزراء پیغام

إن الحمدلله نحمده و نستعینه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور انفسنا وسیأة أعمالنه من یهده الله فلا مضل له و من یضلله فلا هادیه له! و بعد:

فأعوذ بالله من الشیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم{كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ}العمران ۱۱۰

عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله علیه وسلم- يَقُولُ :« مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ وَذَلِكَ أَضْعَفُ الإِيمَانِ ». أَخْرَجَهُ مُسْلِمٌ فِي الصَّحِيحِ

«عَنْ دُرَّةَ بِنْتِ أَبِي لَهَبٍ، قَالَتْ: قَامَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ؟ فَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " خَيْرُ النَّاسِ أَقْرَؤُهُمْ وَأَتْقَاهُمْ وَآمَرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ، وَأَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ، وَأَوْصَلُهُمْ لِلرَّحِمِ» مسند احمد

او همدارنګه رسول الله(صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: «عن حذيفة عن اليمان : عن النبي صلى الله عليه و سلم قال: « والذي نفسي بيده لتأمرن بالمعروف ولتنهون عن المنكر أو ليوشكن الله أن يبعث عليكم عقابا منه ثم تدعونه فلا يستجاب لكم » الترمذي

له هر څه نه مخکې خپل سلامونه او نیکې هیلې تاسو درنو او معززو علماء کرامو، دانشمندانو او د قلم خاوندانو ته وړاندې کوم، خدای تعالی مو روغ جوړ او په ټولو کارونو کې بریالي او سرلوړي لره، زه د هیواد په دې حساس پړاو کې د افغانستان د علوم اکادمۍ هلې ځلې ستایم او مننه وی یې یم چې

په داسې یوه مهمه موضوع( په اسلام کې د امربالمعروف او نهی عن المنکر مقام او د ټولنې په اصلاح کې یې ونډه) تر عنوان لاندې یو علمي سمینارترتیب کړې چې هغه د همدې امت د هر وګړي دنده او فریضه ده.

په نیکیو امر کول او خلک له بدیو منع کول د اسلام د مبار دین له فرایضو څخه یو مهم او اساسي فرض دی، همدغه د انبیاء کرامو ،صالحینو د دین د امامانو او په ټوله کې د اسلامي امت د دعوتګرانو وظیفه وه او په اوس وخت او اینده کې به هم د ټولو مسلمانانو او خاصتا په دین آګاه اشخاصو او علماء کرامو وظیفه وي.

په نیکیو امر کول او له بدی منع کول د همدې مبارک دین لپاره د کور د یو محکم دیوال حیثیت لري، زمونږ د دین او عقیدی حفاظت د همدې مبارکې وظیفې په درسته طریقه آدا کولو سره ممکن دي، که مونږ په درسته طریقه د امر بالمعروف وظیفه آداء کړای شوه زمونږ دین او عقیده به د ټولو دښمنانو له هر قسم دسیسو څخه ژغورل شوې وي.

امر بالمعروف او نهی عن المنکر د اسلام د دین د تطبیق تضمین کوي. مونږ په جامعه کې هلته عدالت تطبیقولای شو چې د ظالم لاس مو له ظلم څخه بند کړې وي او مظلوم سره مو همکاري کړې وي، په نیکیو کې د یو بل همکار و اوسو او له بدیو یو بل منع کړو لکه چې خدای تعالی فرمایلي دي. : { وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ } المائده ۲

او رسول (صلی الله علیه وسلم) په یوه مبارک حدیث کې فرمایلې دي: «عَنْ أَنَسٍ - رضي الله عنه – قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ انْصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا أَوْ مَظْلُومًا فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ أَنْصُرُهُ إِذَا كَانَ مَظْلُومًا أَفَرَأَيْتَ إِذَا كَانَ ظَالِمًا كَيْفَ

أَنْصُرُهُ قَالَ تَحْجُزُهُ (تَحْجُرُهُ) أَوْ تَمْنَعُهُ مِنَ الظُّلْمِ فَإِنَّ ذَلِكَ نَصْرُهُ» البخاري

زما عزتمندو امر بالمعروف او نهی عن المنکر ده چې د مسلمانانو عزائم او ارادې نورې هم محکمې او قوي کوي او زمونږ د دین دښمنان او مفسدین ورسره نور هم ذلیل او رسوا کیږي لکه چې د هر کار او وظیفی شرایط او آداب پیژندل مهم دي همدارنګه زما عزتمندو د امر بالمعروف او نهی عن المنکر شرایط ، آداب او اصول پیژندل هم د هر دعوتګر لپاره اړین او ضروري دي.

کامیاب او سرلوړي اوسیږئ

والسلام علیکم و رحمت الله و برکاته

شیخ ملا محمد حسن اخوند

## د افغانستان اسلامي امارت دسترې محکمې پیغام

د علـوم اکـاډمۍ د اسـلامي علومـو معاونیـت د ( پـه اسـلام کـې د امربالمعروف او نهی عن المنکر مقام او د ټولنې پـه اصـلاح کـې یـې ونـډه) تـر سلیک لاندې علمي- څېړنیز سیمینار لپاره د سترې محکمې پیغام:

الحمدلله و کفی و سلام علی عباده الذین اصطفی و بعد: امـر بـالمعروف او نهی عـن المنکـر ډیرسـتر فضـیلت او اهمیـت لـري، ځکـه داد انبیـاء علـیهم السلام عمل دی، د ټولو صحابه کرامو، تابعینو او د خیر القـرون د ټولـو صـالحو کسانو کار دی.

الله تعالی پیغمبران ددې لپاره مبعوث کړي دي چې خلک د اللـه تعـالی طرف ته و بولي، هغوی ته په نیکو کارونو امر وکړي او لـه بـدو کـارونو څخـه یـې منع کړي، تر څو د خلکو لپاره پر دوی کوم حجت پاتې نه شي.

رسول الله(صلی الله علیه وسلم) بـه پـه ټولـو حـالاتو کـې امربـالمعروف اونهې عن المنکر کاوه، حتی د ډوډۍ خوړلو په وخـت کـې یـې هـم یـو تـن تـه وفرمایـل: « کـل بیمینـك»، ( صـحیح مسـلم) پـه ښـي لاس خـوراک کـوه، امربالمعروف او نهی عن المنکر د مؤمنانو له مهمو اعمالو او سترو صـفاتو څخـه دی، دا داسې یو صفت دې چې د مؤمن او منافق توپیر ورباندې راتـلای شـي او دا یو دلیـل هـم دې چـې رښـتینې مسـلمان بـه همـدا صـفت لـري. (تفسـیر قرطبي، ۴۹/۴ )

بل دا چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر د دې امـت د خیـر او فضیت سبب بلل شوې دې او ورسره دعوت او بلنه ، لمونځ قایمول، د کلمة اللـه اعـلاء او په ځمکه کې د استقرار او الهی نصرت عظـیم اسـباب دي، او دغـه اعـمال د

حکومت او نظام دنده ده، او سربیره پر دې ستر اجر هم لري.

امر بالمعروف او نهی عن المنکر تر سوه کول د گناهونو کفاره او د ښېـنـې وسیله ده، رسول الله( صلی الله علیه وسلم) فرمایي: « فتنـة الرجـل في أهلـه و ماله و نفسه و ولده و جاره يكفرها الصيام و الصلاة و الصدقة و الأمر بالمعروف و النهي عن المنكر»( صحیح مسلم).

د امر بالمعروف او نهی عن المنکر ډله بـه دنیـا او اخـرت کـې کامیابـه ده، اللـه تعالی ورته {وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ} العمران (١٠٤) مفلح او کامیاب ويلي دي.

د امربالمعروف او نهی عن المنکر په کوونکو بانـدې د اللـه تعـالی رحمـت وریږي، د الله تعالی په نزد بهترینه او ښه خبره د الله تعالی طرف تـه بلنـه ده، د آسمانونو او ځمکو اوسیدونکي هغه چاته ښېنه او مغفـرت غـواړي چـې هغـه د الله تعالی طرف ته بلنه کـوي او خلکـو تـه د خیـر پـه لـوري لارښـوونه کـوي پـه حدیث کې دي: « إن الله وملائكته وأهل السموات والأرضين حتـى النملـة في جحرها وحتى الحوت ليصلون عـلى معلـم النـاس الخـير » ( الترمـذي : ٥٠/٥) فیض القدیر لیکي: دالله تعالی لـه جانبـه درود رحمـت دی، د ملائکـو لـه خـوا استغفار او ښېنه غوښتل دي او د نورو له جانبه دعاء ده.

د چا په لاس چې الله تعالی یو چاته هدایت وکـړي دغـه چـار ورتـه د دنیـا او مـا فیها نه غوره دی، د الله تعالی لور ته بلنه د دنیـوي فتنـو او د عـذاب او هلاکـت څخـه نجات دی، د الله تعالی د دین نصرت او په ایمان او نیک عمل بانـدې د ثبـات وسـیله ده.{ وَلَيَنْصُرَنَّ اللَّهُ مَنْ يَنْصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ} الحج (٤٠)

الله تعالی دې د دې سیمینار ترتیبوونکو ته ستر اجر وکړي چې په داسې حساسو شرایطو کې یې داسې یوه جالبـه او پـه زړه پـورې موضـوع تـه پاملرنـه

کـړې ده او د صر پــه مهــم او مــبرم او حيــاتي ســيميناريې کــار کــړې دی، د افغانســتان د علومــو اکــاډمۍ څېړنکــو، اســتادانو او علــماو تــه د دې ســمينار مبارکي وايم او د الله تعالی نه ورته د لازياتو برياو غوښتونکې يم.په درناوي

مولوي عبدالرحيم (راشد)

د خارجه، عامه او مطبوعاتو د رياست سرپرست

په اسلام کي د امر بالمعروف او نهی عن المنکر مقام او د ټولنې په اصلاح کې يې ونډه

تر سليک لاندې

# د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اوریدلو وزارت د مقام پیغام

الحمدلله رب العلمین والصلوة والسلام علي خاتم الآنبياء و المرسلين، محمد وعلي اله و اصحابه اجمعين و من دعا بدعوته الي يوم الدين. {وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ} التوبة(۷۱)

اما بعد: امر بالمعروف او نهی عن المنکر د الله جل جلاله امر، د پرهيزگارانو او متقيانو صفت، نيغې لارې او جنت ته خلکو رابلل، د ټولو مسلمانانو مسؤليت او په اسلامي نظام کې د ملا د تير حيثيت لري.

د بنی اسرائيلو د هلاکت سبب د امربالمعروف او نهی عن المنکر نشتوالې بلل شوې ده، د دوی په اړه الله( جل جلاله) فرمايي:{لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُودَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ (۷۸) كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنْكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ} المائدة (۷۹)

ژباړه: په هغو کسانو باندی چې په بني اسرائيلو کې کافر شوي دي لعنت شوې دی، د داود عليه السلام او مريمی بی بی زوی عيسی عليه السلام په ژبه، دا ځکه چې دوی نافرماني وکړه او دوی له حد نه تيريدل. دوی به له هغه ناروا کار نه يو بل نه منع کول چې دوی به هغه کاوه، خامخا بد دي هغه کار چې دوی به کاوه.

همدا راز له ابن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دې هغه وايې:« يقول صلی الله عليه وسلم: ما بعث الله من نبی فی امة قبلی إلا كان له من أمته

حواریون و أصحاب یأخذون بسنته و یقتدون بأمره، ثـم إنهـا تخلـف مـن بعـدهم خلوف یقولون ما لا یفعلـون و یفعلـون مـا لا یـؤمرون، فمـن جاهـدهم بیـده فهـو مؤمن، و من جاهـدهم بلسـانه فهـو مـؤمن، و مـن جاهـدهم بقلبـه فهـو مـؤمن، ولـیس واء ذلـک مـن الایـمان حبـة خـردل». روام مسـلم – الاحکـام الکـبری،ج ۱ ص ۱۱۰

ژباړه: الله به یو نبی په مخکنیو امتونو کې نه رالیږه، مگـر د هغـه لـه امـت څخه به د حواریونوپه نوم مرسته کوونکي او ملگري وو چې د هغه پـه سـنتو بـه یې تگ کولو او په امورو کي به یې د خپل پیغمبر اقتداء کوله خو بیا به وروسـته یو شمیر خلکو هغه څه نه کول چې دوی به ویل او په کومـو امـورو بـه یـې چـې امر کولو خپله به یې نه کول چـا چـي د دوی سره پـه لاس، ژبـه او یـا زړه جهـاد وکړ هغه مؤمن دی او له دي ما سواء چې څوک دي په زړه کې یـې د یـو ږیـدن دانې په اندازه ایمان نشته.

د پورتنـي منصوصی دلایلو، تاریخي اسنادو، د تیـرو قومونـو دهلاکـت لـه عللو، د تقنیني ارگـانونو د وجـود لـه فلسـفی څخـه ثابتـه ده چـې د مهـارت پـه لحـاظ د مملکـت کنټـرول او د جـامعی اصـلاح د اعمالـو د کولـواو نـه کولـو پـه تشخیص سره ممکـن ده چـې للـه الحمـد دا موضـوع د کاینـاتو خـالق د اشرف المخلوق لپاره په ټولو ادوارو کې او بلاخره د وروسنـي کتاب قرآن کریم پـه نـزول سره د فعـل ماموربـه او فعـل منـی عنـه سره تعبیـر کـړې چـې صراحتـا لـه دې وضاحت څخه د امر بالمعروف او نهی عن المنکر مقام د دولت پـه ثلاثـه قـواوو، سیاست، تجارت، اجتماعي، ملی اوبین ا لمللي موضوعاتو کې د انتخاب شـوې عنوان له محور سره سم پـه تعمـق سره کیـدلای شي، دا یـو واضـح حقیقـت ده

چې کله هم د معروفاتو په امر کولو اومنکراتو څخه د منعې په ارتباط محض غفلت صورت ونیسي هغه ټولنه په هر لحاظ د هلاکت کندې ته غورځیږي ځکه دا هغه اهم او اړین امر ده چې د خطراتو له وړاندینو او د مخنیوي په رابطه یې له لازمو اقداماتو څخه د علومو د مهمي وسیلي چې اللهي وجیبه ده سرچینه اخلي؛ چې دا مبارک اصل او منبع په مادي او ماشیني لحاظ په پرمختللی نړۍ کې محیر العقول ده؛ د نمونې په توګه یو مثال وړاندې کوم: په اسلامي شریعت کې د نارینه ووا و زنانه وو اختلاط یو منکر اومذموم عمل ده چې د اخلاقي فساد، حیثیت له منځه تللو او بې حیایی سبب کیږي اوس په پرمختللې نړي کې هم په سایکلو ژیکي لحاظ په علمي مراکزو کې د داسې اختلاطونو مخه د سترګو د انحراف تر عنوان لاندې ځکه نیول کیږي چې په داسی محیط کې د زده کوونکو فکري حواس په شهواني جنسي- قوه تمرکز کوي او خپل علمي مطلوب ته نه رسیږي.

بلاشک چې د یوې موضوع حقانیت هغه وخت بهتر ثابتیږي چې د ښمن یې هم په حقانیت اعتراف وکړي؛ زرځله تآسف پکار ده چې کله مونږ په ټولو اړخونو کې د جامعې اصلاح د معرفاتو د اقامي او منکراتو د ازالی تر عنوان لاندې مطرح کوو نو غیر علمي، غیر منطقي، غیر انساني، غیرطبي، غیر تحقیقاتي او غیر منقول دومره مخرب انتقادات تر سره کیږي چې د اظهر من الشمس موضوع څخه په لیدلو سترګو انکار کوي د ذکر شوي مثال په واسطه غرب پرستانو او افتخاري سیکولرستانو ته دا وایو چې که مو عقلونه ځای ته راشي او په اسلامي افکارو منور شي نو بیا به په ثبوت ورسیږي چې د ټولنې پر مختګ، سوکالي، امنیت، عدالت او د هیواد بدلیدل په یو صادراتي او ځان

بسیا هیواد یوازې د معروفاتو په اقامه او منکراتو په ازاله خلص کیدای شي.

که څومره د موضوع په عنوان تفصیل ورکړل شي بیا هم ځکه ناکافي ده چې د انسانانو د کونینو سعادت یوازې په همدې لاره ممکن ده چې تکمیل یې صرف په یو یا څو لیکنو ناشونې ده زما غوښتنه د وظیفوي موقف، مسؤلیت او ددې هیواد سره د واقعي مینه پال په حیث د هیواد ټولو وګړو او په خاص ډول د ملکي او نظامي منسوبینو څخه داده چې د منکراتو په لمنځه وړلو او په عوض د معروفاتو اقامه کې د متقابلې دیني او اداري همکارۍ پر بنسټ په خلوص نیت سره پوره همکاري وکړئ ترڅو هغه مطلوب او اساسي اسلامي اهداف چې د یو څو یې په متن کې تذکر وشو تحقق پیدا کړي.

و بالله التوفیق و هو خیرالرفیق

شیخ محمد خالد حنفي

د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اوریدلو وزارت سرپرست وزیر

## ددعوت او ارشاد عمومي رياست پيغام

الله (ج) مو په ټولو شرعي امورو کې کاميابه لره!

د علومو اکادمي لوی رياست د اسلامي معينيت محترم مقام ته !

موضوع: په اسلام کې د امربالمعروف او نهی عن المنکر مقام او د ټولنی په اصلاح کې يې ونډه په اړه سيمنار ته د دعوت او ارشاد عمومي رياست پيغام:

الحمدلله رب العالمين والعاقبة للمتقين والصلاة و السلام على خير خلقه محمد وعلى اله واصحابه اجمعين.

وروسته: د افغانستان اسلامي امارت د علومو اکاډمي مشرتابه، درنو محقيقنو، پوهانو او ټولو ګډونوالوته السلام عليکم ورحمة الله و برکاته!

د علومو اکاډمۍ د اسلامي علومو د معاونيت څخه ډير مننه چې په داسې اړينو او جدي موضوعاتو سيمنارونه جوړوي له يوې خوا اقتصادي مشکلات او له بله پلوه له لوی اوخونړي انقلاب څخه مو د استقلال څه د پاسه يو کال کيږي په دی وخت کې ستاسو ددغه لوی خدمت ستاينه کوو.

دا چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر يو فرضي او وجوبي امر دی چې په هر مسلمان نارينه او ښځينه باندې د خپل وس مطابق لازم دې اوپه دې اساسو شرايطو کې اسلامي نظام بايد همدې کارته ډيره توجه وکړي لکه څرنګه چې الله ج په قرآن کريم کې فرمايلي دي: { وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ} (١٠٤)العمران- نو په دې هکله د مسلمانانو کاميابي او برياليتوب په دې کې ده چې دا مهم کار پرينږدي.

له الله ج نه دا خواست کوم چې موږ ټولو ته توفيق راکړي ترڅـو دا مهمـه دنده په سمه توګه ترسره کړو. په اخير کې يوځل بيا د علومو اکاډمۍ د اسلامي علومو معاونيت څخه دد ې سـيمنار پـه دايرولـو بانـدې مننـه کـوم او لـه اللـه ج څخه ورته د لا نور توفيق غوښـتونکې يـم او دا د يـوې ښـې راتـونکې جـامعې د جوړولو لپاره ستاسو يو لوی خـدمت بـولم مـوږ پـه خپـل وار سره ستاسـو ددغـه خدمت ستاينه کوو.

شيخ مولوي محمد هاشم شهيد ورور

د دعوت او ارشاد عمومي رياست ريس